د ۱۳۸۱ کال د غبرگولي ۱٦

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون

اقتصادي او ټولنيزو حقونو رپوټ

## د رپوټ لنډيز

دغه رپوټ دافغانستان د حکومت هغه پرمختياوې چې د هيواد والو د اقتصادي او ټولنيزو حقونو د ټينګښت په برخه کې شوي د ۲۰۰۷ کال د جنورۍ (جدي-دلوه۱۳۸۵) څخه يې د ۲۰۰۸ کال تر مارچ (حوت ۱۳۸۷-حمل ۱۳۸۷) پورې ارزوي. دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون تر دې وړاندې د اقتصادي او ټولنيزو حقونو په اړه دوه رپوټونه په ۲۰۰٦ (۱۳۸۴-۱۳۸۵) او په ۲۰۰۷ (۱۳۸۵-۱۳۸٦) کلونو کې خپاره کړي دي. ياد شوي رپوټونه د کمېسيون په ويبپاڼه کې په دغه پته پراته دي.

www.aihrc.org.af

د يو باثباته دولت جوړول چې يوه سمه کاري اداره ولري، چې په هغه کې اساسي او ارزانه خدمتونو ته لاس رسی، د قانون حاکميت او د جنسيت برابري په کې خوندي وي ، يو اوږد مهالي پلانګوني او کره پروګرام ته اړتيا لري.

د اقتصادي او ټولنيزحقونو د تامين او ټينګښت په برخه کې د افغانستان د حکومت کړنلاره او چوکاټ د دوو بنسټيزو او قانوني سرچينو پر بنسټ طرح کېږي: د افغانستان اساسي قانون[1] او د نړيوال اقتصادي ،ټولنيزاو فرهنګي تړون (ICESCR)[2] د افغانستان له پاره د د زرکلنو هدفونو (MDGs) د پراختيا په انضمام او د افغانستان د ملي ستراتيژۍ پراختيا (ANDS) ددغه کړنلارو او قوانينو پر اساس د افغاَنستان حکومت دنده لري ، چې د هيوادوالو د کاردحق څخه ساتنه او ملاتړ وکړي . د ټولنيز امنيت زمينه راولي داسې چاپيريال تياراو چمتوکړي ،چې د ژوند د مناسبي کچې حق په کې وي، هيواد ته راتلونکې کورني اوبيځايه شوي هيوادوال بيرته ټولنې کې راګډ کړي او د هيوادوالو د کورني ژوند څخه دملاتړ سربيره ښوونيز او روغتيايي خدمتونه ورته برابر کړي

## زيانمنونکې ډلې

---

[1] افغانستان د ۱۹۸۳ کال د جنوري پر ۲۳ (۱۳٦۱ کال د سلواغيې ۴مه) د نړيوال اقتصادي ،ټولنيز اوفرهنګي حقونو له تړون سره يوځای شو

[2] د افغانستان د ملي ستراټيژي پراختيا د فقر د راټيټول د ستراتيژۍ په توګه (prsp) په هيواد کې پلي کېږي دغه ستراتيژي دحکومت او نړيوالي ټولنې د وعدي و فقر د راټيټولو له پاره شوي دي ، چې په هيواد کې د فقر حدونه او مثالونه تعرفيږي د فقر د راټيټولو ستراتيژي وړاندې کوي د فقيرانو له پاره مرستي اوپروګرامونه جوړيږي او د اقتصاد په برخه کې يو پنځه کلن لوی چوکاټ او هم د فقر د راټيټولوله پاره پنځه کلن پروګرام جوړوي (د افغانستان د پراختيا ملي ستراتيژي لومړی فصل ټوليزه کتنه)

په افغانستان کې د زیانمنونکو ډلو محرومیت او ګوښه توب او په پرمختیایي پروګرامونو کې یې نه ګډون لاتر اوسه دوام لري. د بشري حقونو پر بنسټ پراختیا د اقتصاد او ټولنیزو حقونو د د تامین په لاره کې لازم شرطونه دي . د یو عزتمند ژوند له پاره په یادوشویو پراګرامونو کې ګډون یو بنسټیز عنصر دی چې له امله یې یوکس بنسټیزو منابعو ته لکه زده کړه ، روغتیایي اسانتاوې، خواړه، کور، بوختیااو د عوایدوعادلانه ویش ته لاس رسی برابروي. دغه ډلې په دریو برخو کې له پراختیا څخه لري پاتي دي.

لومړی: د مرسته رسونکو لومړیتوبونه ددې سبب شوي دي چې افغانان د خپل ژوند جوړولو حق څخه محروم شي.

دویم: په افغانستان کې سیاست جورونکې د خلکو د اړتیاوو د خبریدو په برخه کې ناکامه شوي دي. که څه هم مشوري ورسره کېږي او ډېر پام د مرسته کوونکو ټولنو د غوښتنو په لورکېږي او دریم داچې بیوزلي افغانان په سیمه ییزه کچه محروم اولري دي. ځکه بیوزلي او فقر ددې سبب شوی چې د خلکو یو برخه په ناوړه توګه د خدمتونو څخه بې برخې پاتې شي.

## دقانون پلي کول

د قانون نه پلي کول او له مدني بنسټونو څخه کاواکه او کمزوری ملاتړ، له اقتصادي او ټولنیزحقونو څخه یې ګټه اخیستنه او دغه حقونه یې تر منفي اغیزې لاندې رواستي دي د افغانستان اساسي قانون او د بشر دحقونوهغه نړیوال قوانین چې افغانستان هم تصویب کړي دي چې په کې ټولنیزو او اقتصادي حقونو ته د لاسرسي ضمانت په کې شوی دي یوازي د کاغذ پرمخ پاتي دي .

د قانون دپلي کولونظام او عدالت کاواکه او کمزوری دی. د قانون احکام د پلی کېدو د پاره د اداري امرونو او نورو سره یو ځای کېږي چې په دې توګه د حقونو د اغیزمن ملاتړ او د قانون د پلی کېدو او د سر غړونو مخنیوی په ټولیزه توګه محدودوی.. برسیره پر دې مسوولې څانګې د تذکرو دورکړې ، د زیږیدود پاڼود تصدیق او د نکاح او طلاق د ثبتولو څخه ډه کوی.نظام په یوغورحالت کې یوازي د ولایتونو مرکزونو ته لاسرسی لري او ډېر هغه کسان چې په کلیو کی او سیږي په یواځیتوب کې پاتیږي. د یوه سم، کاري او اغیزمن نظام له درلودلو پرته د افغانستان حکومت د اړتیاوو د پیژندلو او د خپلو خلکو د حقونو د ملاتړ او ترویج پرته به ستونزي ولري.

## د کار حقونه

د کار له حقونو څخه د حکومت د ملامتیې په وجه د قوانینو د طرح کولو د ملاتړیومیکانیزمونو د پلي کولو له پاره په لوی لاس ملاتړ نه دی شوی . په ځانګړي توګه د غه حالت د هغو کسانو په اړه چې د غیر رسمي اقتصاد په برخه کې کارکوي لکه د ماشومو کارګرانو، مهاجرو کارګرانو او د ښځو په برخه کې ډېرصدق کوي. د دغه رپوټ د لیکلو په وخت کې د نامنظم او غیر رسمي کار ته در سیدو د پاره څه مقرري وجود نلري، او ډېر هغه خلک چې په نامنظم غیر رسمي کار بوخت دي د دغه کسانو د سرشمیرینې او ددغه خلکو د اړتیاوو او په غیر رسمي اقتصادي برخه کې د کارګرانو د ورځنی اجورې په اړه څه معلومات نشته. غیر رسمي کارګران د مهارتونو د پرګرامونو په اړه او په ټولیزه توګه د ژوند

دښه کېدو د پاره څه لاسرعمره نلري. د ماشومانو کار رواج پیدا کړي. په کابل کی تقریبا په هروڅلورو ماشومانو کې یو کارکوی په داسی حال چې پوره کار (د ورځی اته ساعته) دهغه ماشومانو د پاره چې عمر ئې تر ۱۸ کلونو لږوي منعه شوی دی (په قانون کی) د کارشرایط زیان لرونکي اوله خطره ډک دي په ځانګړي توګه په ناسالم محیط کې او په خطرلرونکی و سیلو سره. د ماشومانو د غیر رسمی کارونو وضیعیت هغوی و جبری کارونو او قاچاق ته تیاروی. د قاچاقو ضد قانون د جوړیدو په حال کی دی او دهغه دوې برخی د انسان و قاچاق ته پرېښول شوي دي، خو داکارپاشلی پروت دی. د ایران څخه د مهاجرو کارګرانو را ویستل (۲۰۰۷ کال په ژمي کې(۱۳۸۶-۱۳۸۵) او په ۲۰۰۸ کال کې (۱۳۸۷-۱۳۸۶) د اندیښنی وړدی.

دغه امکان موجود دی، چې ددغو کارګرانو یوه برخه ، چې له پولې څخه را اړول شوې ده یا قاچاق شوی وو او یا هم په جبري کار باندې ګمارل شوی وه. په ایران کی د مهاجرو کارګرانو ملاتړ نه کېږي او د افغانستان حکومت دهغه کار ګرانو د حقونو په تامینو لو کې ناکامه دی کوم چې د ایران دخاوري څخه را ویستل شوي دي. هغه ښځې چې په رسمي او یا غیر رسمي توګه باندې کارکوي د هغوی د حقونو څخه ملاتړ ځانګړې توجه غو اړي. په او عمري وخت کې د ښځو د حقونو د ملاتړ په برخه کې یوازی هغه رخصتی دي چې ښځو ته د اومیندواری او زیږیدو د پاره ورکول کېږی. په کاردي چې د ښځو څخه د کار په سیمه کې د زورولو او د هغوی سره د بدچلند کولو او جنسي ځورونو مخه و نیسي، تر او سه پوری داسی میکانیزمونه وجود نلري ،چې د ښځو د ملاتړله پاره داسې زمینه برابره شي چې مساعده وي تر اوسه نه لیدل کېږی. همدارنګه داسې هڅونه نشته چې د هغوی د ماشومانو سرپرستي وشي ، او داسی کړنلاره چې دهغه له مخي ښځی ډیری و کارونو ته لاره پیداکړی وجود نلری. د افغانستان اساسي قانون د یوې منصفانه او عادلانه ټولنې د پاره یو فوق العاده اساس وړاندی کړی دی په کاردي چې قانون په عمل کی پلی شی. حکومت باید د کار داسې قوانین جوړ کړي چې په ځانګړی توګه دورځنی اجوری اخیستونکو کارګرانو، دهغوی روغتیائی څارنه او بی خطره محیط او د ماشومانو د کار خطر له مینځه یوسی.

## د ټولنیز امنیت سیستم:

په افغانستان کې د ټولنیز امنیت اویا خوندیتوب سیستم یوازی د تقاعد د حقونو په وړاندې کولو سره چې هغه هم یوازې معلولیت لرونکو کسانو، د حکومت پخوانی کارکونکو او دشهیدانو د کورنیو ته ورکول کېږي ولاړ دی. سره له دې هم داساسی قانون په رڼاکې د زړو خلکو دملاتړ ناروغوکسانو، دهغه ښځو چې سرپرست نه لري په اړه د ملاتړ طرحي نه دي وړاندي شوي . او د قوانینو پلی کول لا هم پاشلي پراته دي. هغه زیانمنونکي کورنۍ چې ښځې، ماشومان، داخلي بیځایه شوی او له بهر څخه راتلونکي یې په سرکې ځای لري ، او هغه کورنۍ چې له اتو نه ډیرماشومان لری له ملاتړ نه بې برخي دي او په ټولنه کې په سختي سره ژوندکوي. ددغه رپوټ د لیکلو په وخت کې یوازې د مدني ټولنوبنسټونه او نړیواله ټولنه هغه ځانګي وې چې ددغه ډلې سره یې مرستي کړي دي. ددغه خداماتتو وړاندي کول په بشپړه توګه له نړیوالو مرسته کوونکو ټولنو پورې تړلي دي.

## د ښځو وضعیت:

د افغانستان د اساسي قانون او دولت د ژمنو پر بنسټ د ښځو د حقونو او د هغوی د کورني ژوند په اړه لړ پرمختګ شوی دی. په افغانستان کې په دغه کې حق کې دغه حقونه راځي لکه په خپله خوښه د واده کولو حق، په لړ عمر کې واده نه کول، د واده کولو او دهغه د پریښولو په اړه د ښځې او نارینه قانوني حق، او د کورني تاوتریخوالی پر ضد ملاتړ . د ماشومانو د واده کولو رواج دا اندیښنې وړ دی. په افغانستان کې تقریبا په سلو کی شپیته ۶۰٪ کسان د ۱۶ کلنی نه مخکې واده کوی. په زور واده کول یوه لویه ستونزه ده او هغه جوړې چې غواړي د پلار او مور د رضایت پرته واده وکړي په معمول ډول تر تعقیب لاندې نیول کېږي او د کورنیو له خوا ځخه ځورول کېږي.

که څه هم په کم عمر او یا په زوره واده کول غیر قانوني دي او زیات نه زیاته سزا یې دوه کلونه حبس دی خو تر او سه پوری څوک په دغه جرم باندی نه دي بندي شوی. د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی ډیر دی. د پور د ورکولو د پاره د ښځو ورکول بله ستونزه ده چې رواج لري، چې دا دښځو پرحقونو تیری دی، دوی مجبوره کوی چې د پور دورکړې پرځای د پور ورکوونکي سره واده وکړي. دغه څه د کوچنی پورونو د سیاست چلونکو د پاره چې یوه طرحه جوړکړي ډیر مهم دی، دامهال داسې کوم میکانیزم نشته چې د پور بهیر و څاري او یا یو څوک چې مفلسه کېږی وجود نلری ترڅو په دې اړه د ښځو د حقونو په اړه د کورنیو د مالي امورو په اړه د هغوی ملاتړ وکړي.

## د ژوند مناسبه کچه :

د ملکیت امنیت، استوګنځی، دصحي خوړو او اوبو درلودل څلور بنسټیزي مسالې دی، چې د ډیرو افغانانو د مناسب ژوند د سطحي په مخ کی خنډګرځي. د غه مسئلو په نامتناسبه توګه باندی هیواد ته بیرته راتلونکی او داخلي بیځایه شوی او کوچیان تر تاثیرلاندې نیسی او دهغوی دبیرته راتلو خنډګرځي. د خپلو ځمکو او استوګنځیو په اړه باندې حقوقي د عوې ددې سبب شوي دی چې ډیر افغانان د ملکېت امنیت ونلري او دهغه په نتیجه کې دهغوی د مناسب استوګنځي او د ژوند په مخ کې خنډشي. د هیواد ته دبیرته راتلونکو او د داخلي بیځایه شوی کسانو پرته نورو کسانو ته د استوګنځي دور کولو د پاره کوم پورګرام په کلیو کې نشته. د ښار ډیر او سیدونکي ژوند د ښه کېدو د پاره په لاس کې کوم شی نلري. په ټول هیواد کې د پاکو او بو د څکلو امکانات ډیر لږدی، د پاکو او بود پوره کولو د سیستم په برخه کې ډیری لږی پیسی لګید لی دی.

روغتیا او ښوونه:

د روغتیا او ښووني سیستمونه د سرچېنو د کموالي او په دې برخه کې د ښځینه کارمندانو لږوالی او د امنیت نشتوالی له امله ډیر کمزوري دي. د ښوونځیواو کلینیکونو د سرچینو کموالی په دې برخه کې د ستونزو او د غیر مسلکې کسانو د استخدام سبب ګرځي. کلینیکونه په پوره اندازه درمل او سامانونه نه لري د ښوونځي د زده کوونکو له پاره کتابونه او د درس نور وسایل نه لري. په ښونځیو او روغتیایي موسسو کې د ښځو ښوونکو او نورو کارمندانو نشتوالی ددې سبب شوي دي چې د هیواد ډیری نجونې د ښو نځیو او روغتیایي خدمتونو څخه بې برخې پاته شي. په ښوونځیو کې د نجونو د لږشمیر د نومونو ثبتیدل ددې سبب کېږی چې په راتلونکې کې به د روغتیا او ښووني په برخه کې د نجونو د پاره

ستونزي لاډيري شي. د امنيت خرابي ددې سبب شول چې په ليرو سيموکې د روغتياوزارت خپل کلينيکونه وتړي. ددې رپوټ د ليکو په وخت کې افغانستان ددې شاهد دی چې د جګړو په بهيرکې پرښوونځيو باندي بريدونه د ښوونکو تښتول او د زده کونکووژل په ځانګړی توګه د نجونو ويرول او وژني ددې سبپ شوي دي چې ځينی ښو ونځي وتړل شي.

## کورنی ژوند:

د کورنيو قانون يوه بله برخه ده چې پاملرنه ورته وشی. دولت بايد د قوانينو سره سم د زور ودونه او د کم عمر ودول په عمل کی پلي کړي او داسی زمينه برابره کړي چې ودونه او طلاقونه په دولتي څانګوکې ثبت شی. ضرور ده چې دولت داسې کړنلاره و ټاکي چې ټول هيوادوال او په ځانګړی توګه د لڼکېو ډله او ښځي بيله تبعيضه و کولای شی ښوونيزو او روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی ولري.

د افغانستان حکومت بايد د نړيوالو معيارونو سره د نقض قوانين او د افغانستان اساسی قانون اصلاح کړي. د نارينه او ښځي د عمر توپير دواده په وخت کې د انديښنی وړدي. ضرور ده چې کورني قانون د اساسی قانون په مطابق او د دولت د کړو ژمنو سره طرح او عملی شی، د کورنيو د جوړونکو د حقونو په ساتلو سره بايد دواده او طلاق، د کورني تا وتريخوالي د له مينځه وړلو او د ډيرو لګښتونو د مخه نيولو په زمينه کی قوانين او مقررې جوړې کړی، اړينه ده چې د قاچاق ضد تدبيرونه ونيول شی، د کار په سيمه او په ښو و نځيو کې د جنسي ازار پرضد مقرری را وباسي.

پورته مسئلو ته درسيدو د پاره او د اقتصادی، ټولنيزو او فرهنګي نړيوال ميثاق پر اساس حکومت بايد خپلي دندې سرته ورسوي. د افغانستان حکومت بايد د موجوده قوانينو په شمول د نړيوالو قوانينو د معيار د سرغړونو او د افغانستان د اساسي قانون اصلاح کول، د ټولنيزو اساسې خدمتونو وړاندی کول د امنيت راوستل او د ملاتړکونکو ميکانيزمونه طرح ترڅو ددغه ميثاق درج شوي حقونه په عمل کې پلی شي.

حکومت بايد لاندی ټولنيز اساسي خدمتونه وړاندی کړي:

د مهارتونو پراختيا او په غير رسمي اقتصاد کې مناسبه وضعه راوستل او د مشغولو کسانو د پاره مناسب کار او د امورو ترتيبول.

د پوهاوی رسولو څانګې مسئول ملاتړی، او د زيانمنونکو ډلو دپاره د خدمتونو ترتيب او هم غږې.

د پاکو او بو د پاره لازمه زيربنا په پام کی نيول.

د حل او فصل داسی ميکانيزم جوړول چې د مځکو او اوبو شخړی حل کړي.

د زيږيدلو په وخت او دهغه نه وروسته د مور او ماشوم څخه سرپرستي کول.

د هيواد والو د پاره د ارزانه ښوونيزو او روغتيايې خدمتونو برابرول.

د دغه تدبيرونه سره سره بايد د ملکپت امنيت د ژوند د پاره عملي چمتو کول او د زيږيدو د تصديق ورکولو د پاره يوې سمې اداره لرل او د واده کولو او طلاق د ثبتولو د پاره څانګې پرانستل او په همدې ډول حکومت بايد د ښوونځيو او کلينيکونو امنيت و نيسي.